DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال چهارم شماره ۱۷۰
شماره مسلسل ۵۲۹
دوشنبه ۵ اسد ۱۳۸۳ هش
۸ جمادی الثانی ۱۴۲۵ ه ق
26 July , 2004

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

په زابل کې د طالبانو ستره ماتې

د غزني والي اسدالله خالد ويلي چې: د غزني او زابل ولايتونو دولتي ځواکونو په ګډه د زابل ولايت د نوبهار، شملزو او اتغر په ولسواليو کې د طالبانو د پاتې شونو پر ضد پنځه ورځې عمليات کړي او دغه سيمې يې په کامله توګه تر خپل کنترول لاندې راوستي دي. د نوبهار ولسوالۍ پخوا تر دې د طالبانو په ولکه کې وه، خو اوس اسدالله خالد وايي چې په دغه ټولو سيمو کې يې د ټولټاکنو د ګډون لپاره د نوم ليکنې مرکزونه په کار ګمارلي دي.

خالد وويل: د دوى ځواکونو پدغه عملياتو کې نهه کسه طالبانو ژوندي نيولي دي دغه راز خالد له طالبانو څخه د يوولسو موټر سايکلونو، ګڼ شمير سپکې وسلې او يوه موټر د نيول کيدو خبر هم ورکړ.

دا عمليات چې د ښاغلي اسدالله خالد په وينا لا هم دوام لري يو زر دولتي سرتيرو د ائتلافي ځواکونو په ملتيا پکې ونډه اخيستې ده او هيڅ ځاني زيان دولتي سرتيرو ته ندې رسيدلى.

ددوستم استعفاء ومنل شوه

انتقالي دولت د شمالي ولايتونو د ځواکمن سيمه ييز قوماندان جنرال دوستم استعفا ومنله د انتقالي دولت وياندوى حامد علمي وويل: چې حامد کرزي د دفاع وزارت له مرستيالى او په شمال کې د دولت د مشر سلاکار له دندو څخه د رشيد دوستم استعفا قبوله کړې ده.

جنرال دوستم د پنجشنبې په ورځ جمهوري رياست ته د کانديدو اعلان وکړ. دى په شمال کې د جنبش ملي مشر دى چې په شمال کې د خپل واک د پراختيا پر سر د خپل سيال جنرال عطا محمد له پوځيانو سره جګړې کوي.

حامد کرزي په وروستيو کې ويلي چې جنګسالاران او د هغوى شخصي وسله وال اوس په افغانستان کې تر طالبانو او القاعده په ستر ګواښ بدل شوي دي.

جنرال دوستم لويه شخصي مليشه لري او په بهر کې يې ځينو خبري رسنيو ته ويلي چې د دوستم کانديدلو نړى ته دا انديښنه نوره هم په ډاګه کړې چې لاهم په افغانستان کې سياسي سيالۍ د توکميزې مبارزې په بڼه د دغه هيواد راتلونکي ګواښلي شي.

نظامیان امریکا:

در افغانستان افراد خودسر هنوز فعال اند



مقامات نظامی امریکا در افغانستان می گویند احتمالاً گروه های متعددی از افراد خودسر در این کشور سرگرم فعالیت هستند.

روز چهارشنبه (۲۲ جولای) محکمه یی در کابل سه تبعه امریکایی را، که به دلیل تعقیب غیرقانونی مظنونین طالبان و القاعده بازداشت شده بودند، به اتهام شکنجه، آدم ربایی و اداره یک زندان خصوصی مورد محاکمه قرار داد.

یکی از سخنگویان نظامی امریکا گفت این احتمال وجود دارد که گروه هایی مشابه در افغانستان فعالیت داشته باشند. ص۴

سفر محصلين به آلمان

شماری ازمحصلین دیپارتمنت جرمنی پوهنځی ادبیات پوهنتون کابل به دعوت پوهنتون دیوزبورگو دفتر خدمات اکادمیک آلمان به این کشور سفر می کنند. این نخستین بار است که پانزده محصل افغان در یک دوره هشت هفته یی برای فرا گیری آموزش های زبان جرمنی به کشور آلمان دعوت شده اند.

این محصلان از شهرهای بن، کلوگین، کابلنس وبرلین دیدن خواهند کرد

اعلام آمادگی اردوی ملی برای تأمین امنیت انتخابات

جنرال بسم الله خان لوی درستیز اردوی ملی افغانستان طی یک کنفرانس خبری دیروز درکابل برنامه های اردوی ملی افغانستان برای تأمین امنیت انتخابات را با همکاری پولیس ملی ونیروهای خارجی اعلام کرد.

او گفت که اردو در جریان انتخابات کاملا بی طرف است و برای تأمین امنیت تمامی نامزد های انتخابات ریاست جمهوری تلاش می کند. او گفت که برای تأمین امنیت حوزه های مختلف انتخاباتی میان نیروهای افغان وخارجی تقسیم کار صورت گرفته و درین زمینه نیروهای ناتو ، سربازان ائتلاف ضد تروریزم به رهبری امریکا وتیم های بازسازی ولایتی به افغانها کمک می کند ص۴

د لوى او ښښونکي خداى په نامه

سرمقاله

په نيشه يي توکو داخته کيدو او اخته شوو مخنيوى

که چيرې په اوږدو او تپل شوو جګړو کې زموږ هيواد ته جبران نه منونکي ځاني او مالي زيانونه ورسيدل او هيواد مو د ژوندانه په ټولو خواوو کې زيات زيانونه او تکانونه وخوړل او له شهيدانو پرته په زرونو ځوانانو مو د خپل بدن غړي له لاسه ورکړل او نن سبا د خپلې کورنۍ او ټولنې لپاره لکه څنګه چې لازمه وه خدمت تر سره کولاى نشي په همدې کچه د مخدره موادو د کښت سوداګرۍ او وريانديې د ځوانانو د عادت کيدو له امله هيوادوالو ته زيات زيانونه رامنځته کيداى شي او رامنځته شوي دي په وروستيو کلونو کې نه يوازې د کوکنارو کښت سوداګري د بيلا بيلو علتونو له مخې زياته شوې ده بلکې د هيواد په ځينو ولاياتو کې له افينو څخه د ساده کارخانو پواسطه د پودرو او هيروينو د جوړولو لاړو چارو زياتوالى موندلى. د ملګرو ملتونو د شميرنې او ارقامو له مخې په چرسو افينو او پودرو باندې د معتادو شوو ځوانانو شمير لسګونو کسانو ته رسيدلى دى.

په هيواد کې د ځوانانو وزګارتيا او بيکاري. اقتصادي ستونزې جنګ او جګړې او د نشه يي موادو بې کچه زياتوالى او په خورو ورو سيمو کې د نشه يانو شته والى او په خپلو اولادونو باندې د کورنيو نه څارنه د نشه يي موادو د پلورلو په هټيو باندې چندان نه کنترول د نشه يي موادو په کارونکو نه بنديز ددې سبب شوى دى چې نن سبا زموږ د هيواد په اطرافو کې ځوانان د چرسو او پودرو په کارونو باندې عادت شوي او په ښارونو کې د شرابو په څښلو باندې د ځوانانو د روږديدلو پله درنه شوى ده په هر ډول نشه يي موادو باندې د ځوانانو اخته کيدل نه يوازې دا چې د خپلې کورنۍ لپاره پوره درد سر رامنځته کوي او د هغوى د اوږو بار ګرځي بلکې د ټولنې د خدمت لپاره هغه هيله چې موږ يې له ځوانانو څخه لرو سرته نه شي رسيداى له دولت او خلکو څخه هيله داده چې بايد د راتلونکي د جوړولو په خاطر ځوانانو ته پاملرنه وشي اوپه مخدره موادو باندې له همدې اوس څخه چې لاوختي دى کلک بنديزونه ولګول شي او کورنۍ تر دولت زيات د خپلو بچيانو د ساتنې او په مخدره موادو باندې د دوى د اخته کيدو او عادت کيدو مخه ونيسي او تل بايد اولادونه د دوى تر څارنې لاندې وي دا چې همدا اوس په مخدره موادو باندې د نارينه وو او ښځينه ځوانانو شته والى څرګند شوى دولت ته د نړيوالو موسسو په مرسته ښايي چې ددغو معتادو کسانو دژغورلو په برخه کې لازمه پاملرنه وکړي او د درملنې لپاره اساسي لارې ولټوي څو وکړاى شو په دغه ناوړه ناروغۍ د اخته ځوانانو مخه هم ونيولاى شو.

په غور کې د DDR اصلي پړاو پيل کيږي

په کابل کې د ملګرو ملتونو اداري په غور کې د بې وسلې کولو يا DDR د پروګرام د پيل کيدو خبر ورکړى دى.

د ملګرو ملتونو د اداري وياند مانويل دسلوا پرون خبريالانو ته وويل په پام کې ده نن د دفاع وزارت او د افغانستان د نوي پيل د اداري يو پلاوې د غور مرکز ته ولاړ شي او هلته د DDR د پروګرام د پيل کيدو لپاره تياري ونيسي. خو وړاندې تر دې هم د ملي اردو ځواکونو پدغه ولايت کې د ځانګړو عملياتو په ترڅ کې اته سوه ميله وسله د وسله والو ډلو نه راټوله کړې ده چې د هغې له جملې څخه درې سوه ميله يې د DDR يا د بې وسلې کولو پروګرام ته ورسپارل شوې او پاتې نوره به يې په راتلونکي اونۍ کې هرات ته وليږدول شي.

ددفاع وزارت او د نوي پيل اداري په کابل کې هم دپاتې وسلو د راټولولو لپاره دغه پروګرام له سره پيل کړى دى.

په ارزګان کې د ائتلافي ځواکونو بله مرګوني تيروتنه

ددفاع وزارت چارواکي وايي چې اته کسه افغان سرتيرې د امريکا په مشرۍ د ائتلافي ځواکونو له خوا په تيروتې سره ټپيان شول دغه کسان د ارزګان ولايت په دهراود ولسوالۍ کې ټپيان شوي دي خو دا روښانه شوې نده چې ايا دغه سرتيرې د ائتلافي ځواکونو په ډزو لګيدلي او که دالوتکوله خوا په بمبارۍ کې ټپيان شوي دي. ياده شوې شميره افغان سرتيرې. هغه مهال ټپيان شول- ۴مخ

توزیع تصدیقنامه ها

در مراسمی که بهمین مناسبت در هوتل کابل برگزار گردیده بود بعد از آنکه عده یی از مسوولین کمیسیون انتخابات و دفتر بین المللی (آی - اف - ای - اس) صحبت نموده ، داکتر غلام فاروق وردک رئیس دارالانشاء دفتر مشترک تنظیم انتخابات و محترم دون کیمبل متخصص امور انتخابات از کشور دوست استرالیا کار این ورکشاف را ارزنده وقابل ارزش خواند. ص۴

همایش مهاجرین افغان مقیم ایران

مهاجرین افغان مقیم ایران طی یک همایش از جامعه جهانی خواسته اند تا در بهتر برگزار کردن انتخابات ماه میزان سال جاری در افغانستان همکاری کنند.

اشتراک کننده گان این همایش از کشور های همسایه خواستار زمینه سازی هر چه بهترشدند ص۴

مشکل کمبود آب در روستا های شمال کشور

وزارت انکشاف دهات هیأتی را برای بررسی برنامه همبستگی ملی به ولایات افغانستان فرستاده اند. این هیأت با برگزاری کنفرانس وسیمینار ها در مورد چگونگی کار این برنامه به مردم ومسوولان دولتی معلومات ارایه می کنند. ص۴

د ښوونکو کمښت به څنگه پوره کړای شو

سهراب دیدار

نن سبا چې د نړۍ څومره بې ساری پرمختگونه د ژوندانه په هره ساحه کې رامنځته شوی دی او څومره چې انسانی بریاوی د ځمکې خاورینې کرې څخه ووتلی دا هر څه د تعلیم او تربیې برکت دی او د یوه هیواد تعلیمی سیستم هغه وخت پرمختگ کولای شي چې د نړۍ د نورو پرمختللو هیوادونو د تعلیمی سیستم سره په سیالی کې حرکت وکړی او د تعلیم سیستم ماهران تل د نیمگړتیاوو د لیری کولو لپاره متوجی او پدی باره کې لازمه پلانونه او څارنې رامنځته کړی زموږ په هیواد کې ویلای شو چې زموږ تعلیمی سیستم د نورو په پرتله لازم ښه والی نه لری یو څو تیرو جگړو زموږ تعلیمی سیستم ولړزولو او ځوانان مو له درسی بهیر څخه وروسته پاتی شول او بل زموږ وروسته پاتی مالی امکانات وو چې لاتر اوسه پوری ورسره مخامخ یو.

سره لدی ستونزو چې اوس له جگړو راوتلی یو او د ښوونځیو دروازی د نارینه او ښځینه زده کوونکو پرمخ خلاصی شوی یوازی له ۵ میلیونو څخه زیات زده کوونکی د ښوونځیو په لوری روان شوی دی.

یوازی سږ کال څه د پاسه ۱۱ زره زده کوونکی چې له ۳۰% څخه زیاتی یې انجونی وی د هیواد د مرکز او ولایاتو په پوهنتونو کې د لوړو زده کړو لپاره شامل شوی دی یوازی د کابل د تعلیم او تربیې په پوهنتون کې ۱۲۰۶ نوی محصلین په لومړی ټولگی کې شامل شوی دغه راز په ښوونځیو کې د زده کوونکو په وړاندې دروازی خلاصی شوی زده کوونکی د زده کړې په لور روان شول خو لا اوس هم د زده کړې په برخه کې یوه ستره نیمگړتیا پرته له ده چې هغه د ښوونکو نشتوالی دی د اسنادو له مخې ۳۰ زره ښوونکی د هیواد په ښوونځیو کې لاکمبود دی.

د ښوونکو نشتوالی پخپله د افهام او تفهیم په برخه کې پوره نیمگړتیا رامنځته کولای شي ان چې زده کړه صورت نه نیسی یوازی د ښوونځیو د دروازو خلاصول درسی کیفي سطحه نشی لوړولی.

موږ باید د هیواد په اوسنیو شرایطو کې چې مسلکی ښوونکی د کمو معاشونو له امله له یوی سیمی څخه بلی ته زړه نشی کولای د حل څو لاری یې پیدا کولای شو:

۱: په ښوونځیو کې د برحالو او مسلکی ښوونکو له خوا د حق الزحمې په توگه د هغو ټولگیو د زده کوونکو درسونو پرمخ وړل چې ښوونکی نه لری.

۲: د ښوونې او روزنې د اوسنی پروگرام له مخې د لوړو زده تعلیمی مرکزونو د وروستیو ټولگیو محصلین د یو دوو کلنو لپاره د ښوونکو په توگه استخدامول چې له تاکلی خدمت څخه وروسته وروستی کال تر سره کړی.

د تنقیص شوو افسرانو څخه تعلیم یافته او ډیپلوم لرونکی افسران چې ځوانان دی او نه یوازی لازمه پوهه او وړتیا لری بلکې د نظم او ډسپلین په برخه کې مثبت رول لوبولی شي د ښوونکو په توگه تاکل.

په ۱۳۸۳/۴/۱۷ نیټه پریکړو وشو چې باید ۲۰۰۰ تنقیص شوی افسران د ښوونکو په توگه استخدام شي خو لا تر اوسه پوری پدی هکله جدی اقدام نه دی شوی دغه راز د ښوونکو د منطقوی معاش په ورکولو کې د ژمنې نه سرته رسولو د ښوونکو د زیاتوالی او پوره کیدو بهیر لا هم سست کړی دی ښوونکی نورو سیمو او ولایاتو ته د دندی لپاره زړه نه ښه کوي.

که چیری په پوره توگه د ښوونکو د کمښت د پوره کولو په برخه کې اقدام وشی ویلای شو چې د زده کړې په برخه کې به مو یوه نیمگړتیا پوره کړی اوسی او د نورو د حل په لټه کې به خپلی هڅی جاری ساتو.

دي ته وايي سياسي زړه ورتيا

ناصر شاه سرحدی

وایی چې ستر بحرانونه ستر او زړه ور شخصیتونه منځ ته راوړی. ستر شخصیتونه هغه څوك ندی چې د واك په څوکی ناست وی د سترو شخصیتونو عنوان هغه چاته کیږی چې د خاصو فضایلو خاوندان وی او د هغه اراده نه تسلیمیږی هغوی چې سیاسی زړه ورتیا نه لری د سترو او زړورو شخصیتونو په کتار کې نه راځی هغوی چې اراده لری او د خطرونو سره یې مبارزه کړی وي د مقصد منزل ته رسیدلی.

زه به اوس د نمونې په توگه هغه کیسه وکړم چې په ۱۸۶۸ میلادی کال کې د امریکی جمهور رئیس جانسن "م. استانتول" د دفاع وزیر د سنا له تصویب پرته له څوکی څخه گوښه کړ.

د جمهور رئیس په مقابل کې عامه افکار راوپاریدل په دی مانا چې اولسمشر نشی کولای په خپل دیکتاتورانه عمل سره بې د سنا له اجازې د دفاع وزیر موقوف او لري کړي. په هغې وخت کې جمهور رییس د ټولو ایالاتو سره مساویانه او ډیموکراتیك چلند درلود.

د جانسن مخالفینو نه لویه بهانه پیدا شوه چې جمهور رئیس محاکمه او له پښو وغورځوی.

د جانسن د محکمې له پاره ۳۶ موافقی رایې پکار وی په هغی وخت کې د جنوبی ایالتونو څو ایالته په اتحاد کې شامل نه وو. نورو ۲۷ ایالتونو (۵۴) رایې درلودی د قانون سره سم نوموړی شمیر ته دوه ثلثو رایو کفایت کاوه چې جانسن یې له حکومت څخه گوښه کړی وایی په دغه شمیر کې د ډیموکراتانو دولس رایې د جانسون په گټه وي د ۴۲ جمهوریت غوښتونکو سناتورانو له ډلې څخه ۶ کسو په صراحت سره ویلی چې د جانسن د اتهام او تورلگولو له پاره کافی دلایل نشته د ده پر ضد به هیڅ رایه ورنه کړو د جمهوریت غوښتونکو ۳۶ سناتورانو څخه یوازی یوه سناتور "اډموند راس" خپله رایه پټه ساتلې وه. دا سناتور د کانزاس د ایالت ځوان سناتور او دده موکلین د جانسن سره سخت مخالف وو هیچا دا فکر نه کاوه چې اډموند راس به د خپلو موکلینو په مخالف قطب کې ودریږی او د جانسن په گټه به رایه ورکړی.

جمهوریت غوښتونکو هڅه او کوښښ کاوه چې د "راس" رایه د ځان په گټه استعمال کړی دا ځکه چې د جانسن برخلیك یوازی په همدی یوه رایی پوری تړلې و.

یوه ورځ سناتور راس د "اوډایلند" سناتور "اسپراك" ته ویلی و د دی سره سره چې زه یو جمهوریت غوښتونکی یم د جانسن سیاست می نه خوښیږی خو په دی محاکمه کې به زه د بشپړې بې طرفی څخه تیر نشم د راس دغه خبره د خلکو په خولو کې ولویده. جمهوریت غوښتونکو او د ده د ایالت د موکلینو سره یې سخته اندیښنه پیدا کړه.

جمهوریت غوښتونکو د گواښ نه نیولی تر رشوتو پوری د دی کار نه ډډه ونه کړه د دی له پاره چې د راس رایه د ځان په گټه استعمال کړی. دا د دومره سخت فشار لاندی راغی چې "تیوبارك تریبیون" ولیکل: "راس دیوی داسی گیدړی سره شباهت او ورته والی لری چې دوه ډلو ښکاریانو ترمنځ ایساره شوی وی کله یوی خواته او کله یې بلې خواته خغلوی."

دا د خپلو موکلینو او همکارانو له خوا تعقیبیده د دی لپاره چې د راس په نظر پوه شي ژورنالیستان به هم هره ورځ د ده په شاوخوا راتولیدل خو راس په ډیر احتیاط او زرنگی سره وکولای شول چې خپله رایه پټه وساتي راس چې په سناکی د سیاسی مبارزی زیاته تجربه نه درلوده او د بلی خوا غریب سړی و ټولو خلکو گمان کاوه چې دا به په ډالرو خرڅ شي. دده جمهوریت غوښتونکو ورور ته بډی او رشوت ورکړ چې که وکولای شي د راس په نظر پوه شي خو د ده ورور ډالر رد کړل. هغه چا چې راس ته یې ډالر راوړی وو چیغی یې کړی شل زره ډالر ډیری پیسی دی نه پوهیږی دغه بې بضاعته لعنتی انسان څومره پیسی غواړی.

سبا ته د جانسن د محکومیت غونډه دایریدله په دغه شپه سناتور راس ته د خپل ایالت د موکلینو څخه دغه ټیلگراف راورسید: "کنزاس ملت د قطعی دلایلو څخه خبر دی یوازی د جمهور رئیس محکومیت غواړی"

(د کانزاس د ایالت د زرگنو کسانو لاسلیك)

د هماغی ورځی په سهار چې جلسه دایریدله ده د خپلو موکلینو په ځواب کې داسی ولیکل: "د وجدان ازادی یو ډول موهبت دی ټول انسانان باید د هغی نه برخمن وی. زه هیڅ چا ته دا حق نه ورکوم چې زما څخه وغواړی د چا پر ضد او یا د چا په پلوی. او گنیه رایه ورکړم ما قسم خوړلی دی چې دخپل هیواد او د لوړو گټو او مصالحو په نظر کې نیولو سره به د ازادی په چوکاټ کې دننه د قانون سره سم په پوره بې طرفی او عدالت د خپل وجدان په حکم قضاوت کوم او خپله رایه به څرگنده کړم."

(د راس لاسلیك)

په هماغه ورځ هم د ده شاوخوا جاسوسانو د کانزاس یو بل سناتور وویل: "خدای مکړه که دا د جمهور رئیس د تبریه په پلوی رایه ورکړی باید د خپل سیاسی کار فاتحه واخلی." د قضاء او قدر شیبې رانږدې کیدی د تیښتې او شك لاره ورکه شوه د غونډی د داخلیدو له پاره په ټکټونو سرونه مات شول ټول سناتوران حاضر وو د هیواد د عالی دیوان رئیس اعلان وکړ چې د ټولو هیوادوالو او بهرنیانو څخه هیله کوم چې خاص نظم او سکوت مراعات کړی.

په ټول تالار کې چوپه چوپتیا شوه د هیجان شیبې راورسیدی په رایو اخیستلو پیل وشو چې راس ته نوبت راورسید پنځه ویشت سناتورانو د جمهور رئیس د محکومیت په جرم رایې ورکړې وی ۱۰ کسه نور هم معلومیدل چې د ولسمشر په محکومیدلو رایه ورکوی.

یوه رایه پکار وه چې ۳۶ رایې او یا دوه ثلثه یې پوره کړی وی چې جمهور رئیس محکوم او معزول گڼل شوی وی.

هغه د راس رایه وه چې په دی شیبه کې هم هیڅوك د ده په نظر نه پوهیدل په دی حساسه شیبه کې د هیواد د عالی دیوان رئیس ونه کړای شول خپل هیجان پټ وساتی په ډیر تند او لوړ اواز سره یې وویل: "ښاغلی راس ستا رایه څه ده؟ ایا تاسو په نظر جانسن مجرم دی او که بې گناه؟"

په دی هیجانی شیبه کې د ټولو سناتورانو اوسیلی (ساوی) په سینه کې بندی شوی ټول غوږونه د سناتور راس په لوړ بوروس شول پخپله راس وایی په دغه شیبه کې زما د لیدلو او اوریدلو قوه څو چنده شوه ټول حاضرین می په نظر کې مجسم شول په ډیره رسا څرگند پریکړونی او مصمم اواز سره می وویل: "بې گناه بې تقصیره!"

په دی وخت کې هغه څه وشول چې نه وای شوی ټول خلك حیران پاتی شول د هیواد عالی دیوان رئیس خپله پریکړه داسی اعلان کړه: "۳۵ سناتورانو د جمهور رئیس په محکومیت ۱۹ کسو د جمهور په برائت رایې ورکړی ۳۶ یا دوه ثلثه رایې نه پوره کیږی نو ښاغلی جمهور رئیس تبریه گڼل کیږی.

وایی چې وروسته میرمن راس خپل میړه راس ته وویل "دا دی څه وکړل تا خو خپل سیاسی کار په اور کې وسوزاوه. ده په ځواب کې ورته وویل: "کیدای شي نن پر ما میلونونو کسانو لعنت ووایی خو زه ایمان لرم چې سبا ته به زه تقدیر شم ځکه ما خپل هیواد له هغه ستر خطر نه وساته کوم چې ورسره مخامخ و خو بې له خدایه هیڅوك نه پوهیږی چې دغه عمل ما ته تر کومی اندازی پوری گران تمام شو!

گپهایی از سیاست در افغانستان

پیوسته به گذشته

کوه بابا

امتحان روزگار:

امتحان روزگار در افغانستان بیانگر این حقیقت است که در شرایط پیچیده و بسی دشوار جغرافیایی، اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی، روابط بین المللی و موقعیت حساس استرا تژیک افغانستان، راه انکشاف و ترقی افغانستان، تولید کافی و فراوان نعمات مادی و معنوی و توزیع عادلانه آن، بسیار پر پیچ و خم و پر از فراز و نشیب است. با در نظر داشت شرایط سنتی جامعه افغانستان و با در نظر داشت عقاید دینی و عنعنات ملی مردم افغانستان و با در نظر داشت موقعیت دشوار جغرافیایی و موقعیت حساس استراتژیک افغانستان، در پروسه تغییر و تحول اجتماعی باید قانون مندی تکامل که همانا تا رسیدن به نقطه اوج و کیفی، تدریجی می باشد، به صورت جدی در نظر گرفته شود. هر گاه این قانونمندی به طور دقیق شناخته نشده و در نظر گرفته نشود و به صورت ذهنی جریان انکشاف و اصلاحات سیاسی و اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی به گونه مصنوعی و غیر طبیعی سریع و یا بطی شود، نتیجه اش بسی زیانبار است.

در تاریخ افغانستان و بعد از (۱۹۱۹) جریانهای گوناگون سیاسی و اجتماعی با مدعاها و اندیشه های مختلف به منظور انکشاف و ترقی افغانستان و تأمین عدالت اجتماعی در صحنه امتحان سیاسی با حسن نیت ظاهر شده اند. مگر به طور شاید و باید ازین امتحان کامیاب بیرون نیامده اند. کامیابی اساسی زمانی میسر می بود که مردم افغانستان می توانستند یک سیستم سیاسی- اجتماعی دموکراتیک ایجاد و تنظیم می کردند و حیات ملی خود را در چهار چوب همان سیستم جمع وجور نموده و نظم قانونی می دادند.

هر گروهی که روی صحنه سیاسی آمده است، تلاش نموده که همه امور کشور را به تنهایی به شیوه و سلیقه خود، تنظیم و ترتیب کرده و خواسته که با حسن نیت دشواریهای گوناگون یک جامعه سنتی عقب مانده قرون وسطایی را در ساحه های اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی و سیاسی با عجله و شتاب، حل و فصل نماید و خودش قهرمان دوران شود. ازینکه این بار، بسیار سنگین بوده و به زودی حمل کننده را خسته و مانده ساخته است و گروه بر اقتدار درین حالت هر مسفد خودرا به حیث مانع و دشمن ارزیابی نموده و متوسل به رفتار خشونت آمیز و استبدادی گردیده و در نتیجه خود زمینه شکست و ناکامی خویش را مساعد ساخته است.

در افغانستان مشکل بزرگ سیاسی این است که هر گروه سیاسی به نحوی از انحاء همان خطاها و اشتباهات سلف خویش را تکرار می نماید. عمده ترین این خطا و اشتباه، همانا یکه تازی، عدم شناخت از شرایط داخلی و خارجی کشور و عدم استفاده از تجارب تلخ و شیرین تاریخی است. در حالیکه در تاریخ افغانستان و به خصوص پس از (۱۹۱۹) تا کنون تجارب منفی و مثبت و تلخ و شیرین فراوان وجود دارد که می توان برای رهیابی درست سیاسی و تشخیص خطا از نا خطا، ازین تجارب استفاده ثمر بخش به عمل آورد.

این تجارب می آموزاند که در شرایط خاص سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی و جغرافیایی و موقعیت حساس استراتژیک منطقوی افغانستان، حل دشواریهای گوناگون و مسایل بغرنج و پیچیده این کشور سنتی و عقب مانده قرون وسطایی و محاط به خشکه بدون بسیج تمامی نیروهای ملی و دموکراتیک و اشتراک همه مردم کشور امکان پذیر شده نمیتواند بسیج نیروهای ملی و دموکراتیک و اشتراک همه مردم در کار سیاسی، نیاز به زمان دارد که نمی توان با شعارها و اقدامهای شتاب زده این امر والا و ضروری ملی را به دست آورد. درین را باید کار تبلیغی، تشویقی، تنویری، آموزشی و عملی را به خصوص از طریق سمعی و بصری با حوصله مندی، از خود گذری و با سنجش و تدبیر دلسوزانه، پیگیرانه و صادقانه ملی انجام داد و به سوی همچو یک اگاهی ملی پیش رفت تا منجر ایجاد و تنظیم یک نظام سیاسی دموکراتیک قانونی و دیر پای دولتی گردد.

راه اساسی نجات افغانستان همان راهیست که تمامی بشریت آن را طی کرده است. این راه رسیدن به یک سیستم اجتماعی ـ اقتصادی است که بر اساس اراده و انتخاب آزاد و آگاهانه مردم به وجود آید و سر انجام منتج به یک نظام دموکراسی در افغانستان شود. نظامی که همه ارزشهای دینی، عنعنوی و ملی مردم را حفظ و حراست نموده و آنها را در جهت معقول و مطلوب رشد و انکشاف دهد. راه آزادیهای سیاسی و مدنی را باز نموده و زمین رشد و ترقی استعداد ها را در تمامی ساحه ها مساعد سازد. خشونت و استبداد را از جامعه بزداید، امور سیاسی و تمامی مسایل حیات ملی را برمبنای قانون و در چهارچوب نظام دموکراسی تنظیم و ترتیب نماید.

هر گاه تمامی گروه های سیاسی، نیروها و عناصر اگاه ملی در طول تاریخ افغانستان، همه با هم درین جهت پیگیرانه و صادقانه مساعی به خرج می دادند.

افغانستان به این ترازیدی ملی گرفتار نمی آمد.

امتحان روزگار به روشنی و صراحت بیان می دارد که مسایل پیچیده سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی جامعه سنتی افغانستان با لاف و گزاف، ادعا های بلند بالا، یکه تازی گروهی و اتنیکی قابل حل و فصل مطلوب و معقول نیست. همه ما ازین امتحان طوری شاید و باید کامیاب بر آمده نتوانسته ایم و نتوانسته ایم وطن محبوب ما افغانستان را داخل یک نظام دایمی و شکست ناپذیر دموکراسی که ضامن انکشاف و ترقی افغانستان در همه ساحه های حیات ملی و تأمین عدالت اجتماعی باشد بنماییم.

طوریکه میگویند:

هر که ناموخت از گذشت روزگار
هیچ ناموزد ز هیچ آموزگار

بهتر آن است که از گذشت روزگار بیاموزیم و با تشریک مساعی همگانی ملی در جهت ایجاد، استحکام، حفظ و تکامل یک نظام سیاسی، اقتصادی اجتماعی و فرهنگی که متکی به اراده و انتخاب آزاد مردم و برمبنای اصول دموکراسی و قانونیت باشد، با در نظر داشت شرایط و خصوصیات افغانستان گام برداریم و کوشا باشیم.

پایان

زندگی در هنر

متصدی صفحه: زحل

تاریخ به روایت هالیوود: سرگرمی یا موجب نگرانی

نتایج یک نظر سنجی در بریتانیا نشان داده است که شمار قابل توجهی از مردم، تحت تاثیر فلم های به اصطلاح تاریخی هالیوود، بعضی از معروف ترین شخصیت های تاریخی را افسانه یی پنداشته و قهرمانان داستانی را واقعی.

در این نظر سنجی، که بیش از دو هزار نفر در آن شرکت کردند، می بینیم خیلی ها، ویلیام والاس، مبارز راه استقلال اسکاتلند در قرن سیزدهم، را قهرمان افسانه یی شناخته ولی رابین هود، آن راهزن تخیلی و خیرخواه را که در قرون وسطی از پولداران می دزدید و در میان فقرا تقسیم می کرد، شخصیتی واقعی.

در قرون نزدیک تر، به نام لرد هیراشیو نلسن برمی خوریم. ۵۳ در صد از پاسخ دهندگان دریاسالار نلسن را فاتح نبرد معروف واترلو دانستند و نبرد تاریخی ترافالگار را که لرد نلسن فاتح آن بود، جنگی افسانه یی و حماسه یی.

واکنش تاریخدانان به این نظرسنجی، که به سفارش یک بنیاد حفظ میراث تاریخی انجام گرفت، تند و کوبنده بود.

مایکل وود، یکی از سرشناس ترین تاریخدانان بریتانیا، آن را نمایانگر بی توجهی مسئوولین آموزش و پرورش و خانواده ها، به اهمیت تاریخ در بافت اجتماعی و هویت فرهنگی توصیف کرد.

درباره نقش فلم های به اصطلاح تاریخی هالیوود در گمراه کردن جوانان نسبت به واقعیات تاریخی، مایکل وود گفت این فلم ها نه تنها از واقعیات افسانه می سازد، بلکه رویدادهای واقعی را هم وارونه جلوه می دهد.



اشاره این تاریخدان به داستان فلم "یو - پانصد و هفتاد و یک" (U-۵۷۱) است که در آن بازیگرانی چون هاروی کایتل و جان بن جووی در نقش قهرمانان نیروی دریایی امریکا در جریان جنگ جهانی دوم ظاهر شدند.

قهرمانانی که به ادعای فلم نامه نویس U-۵۷۱، که شماره یک زیردریایی آلمانی بود، توانستند با بدست آوردن یک دستگاه رمزنگار و کشف رمز انیگما (Enigma) از این زیردریایی مسیر جنگ جهانی دوم را به سود متفقین تغییر دهند.

انیگما، پیچیده ترین دستگاه مخابرات رمز اردوی آلمان بود که در نیمه اول قرن بیستم پیشرفته ترین کمپیوتر رمزی شناخته می شد.

نمایش این فلم در بریتانیا با اعتراض شدید تاریخدانان و استادان پوهنتون روبرو شد. دلیل این اعتراض تغییر واقعیات تاریخی به دست هالیوود بود و نه تغییر مسیر جنگ دوم، چون دستگاه انیگما را افراد نیروی دریایی بریتانیا و کانادا از درون یک زیر دریایی آلمانی به دست آوردند، آن هم در زمانی که ایالات متحده هنوز وارد جنگ نشده بود.

پاسخ فلم نامه نویس و کارگردان U-۵۷۱ به این اعتراض ها خیلی ساده بود. ما برای تفریح مردم امریکا این فلم را ساختیم و هیچ وقت ادعا نکردیم که سندیت تاریخی دارد.

ولی نظر سنجی اخیر در بریتانیا نشان داده که هدف فلمسازان هالیوود هرچه بوده، اثرش بر ذهن تماشاچی غیر قابل اجتناب است.

دویمه برخه

تربور او دښمن

دصفر سفر تول ناکام له کتاب څخه

لیک: سهراب دیدار

دا به هغه عبدالله وی، چې یوه شپه مونږ ته راپور راورسید چې د قاچاقو په یوه ګاډی کې لرغونی اثار ځای پر ځای شوی دی او له هیواد څخه بهر د پلورلو لپاره ورل کیږی. کله چې زه او امنیتی مسوول ورپسی ووتلو کله چې سره مخامخ شوو، دزې پیل شوې، په موږ کې نفر ولګیدل او بالاخره مو ونیول. دا به هماغه عبدالله وی، چې په هغې شپه مو د هغې سیمی یو مشر سپین ږیری هم راووست او چې زموږ امنیتی مشر پری ګوابنونه کول چې ولې ستاسو له سیمې څخه د هیواد لرغونی اثار بهر ته لاړ شي. له دې څخه بل لوی جنایت به نه وی او بیا چې ا منیتی مشر د قاچاقبر د وهلو او بې عزته کولو نیت کړی و ما هغه ته وویل:

- سمه ده چې دا قاچاقبر دی، خو افغان دی، د وهلو حق پری نه لرو افغان بندی کیدای شي، تاوانی کیدای شي، خو بې عزته کیدای نه شي، یره دا به همدغه عبدالله وی، چې د قانون پنجو ته مو وسپارلو.

خو ذهن بیا هم ورسره ونه منله، نه، نه دا هم نه دی، ځکه چې هغه شپږ کاله قید شو، لرغونی اثار یې ضبط شول، د کابل مرکزی موزیم ته ولیږدول شول او لاړې یې سرکاری شوی. هغه چېری ته چیری، هغه کله پوهیده. چې ستا کور دلته دی، ته اوس ربړه چلوی ته خو اوس وزګار یې او کېدای شي، چې هغه اوس هم چیری بل ځای کې اوسي، داسی ډیرې پوښتنی د هغه په ذهن کې راغلی او ځوابونه تېر شول، هغه لا په همدې چورتونو کې و چې دروازه وټکول شوه، کله چې ورکوتی خیبر ورته ورغی ګوری چې هماغه سهارنی نفر ولاړ دی، خو بوجی، اوړه، بوره غوړی او څه نور شیان یې له ځان سره راوړی دی او ویې ویل:

- جمال صیب راغلی دی؟

خیبر وویل:

- شته دی.

خیبر په منډه کور ته لاړ، پلار ته یې وویل:

- پلاره هماغه نفر راغلی دی، چې سهار راغلی و.

- ورته ووایه چې راځه.

عبداله د خیبر په خوا روان شو، عبدالله او جمال دواړو سره ستړی مشي وکړه او کور ته یې د کیناستلو لپاره د مهربانی الفاظ وکارول او حجری ته لاړل.

عبدالله په دې پوه و چې مانه پیژنی، نو ځکه یې په خپله ورته وویل:

- جمال صاحب کیدای شي، چې تاسو زه پیژندلای نه وم، زه عبدالله یم د باندی مې څه شي راوړی دی، هغه دننه راوړئ، هغه مې ستاسو کور ته راوړی دی، جمال سم د لاسه پورته شو، چې وګوری د باندی څه دی، ګوری چې د اوړو بوجی، د غوړیو تیمان، بوره او څه نوره سودا ده.

هغه چې یې دننه کول بیا د هغه په ذهن کې د سوچونو سلسله روانه وه او چې هر څومره یې فکر کاوه. خو ذهن یې ځواب نه ورکاوه، جمال صاحب بېرته راغی او کله چې په میلمه خو نه کې کیناستو، عبدالله د هغه د احترام لپاره پورته شو، له کیناستلو وروسته یې وویل:

- جمال صاحب زه هغه قاچاقبر یم، چې تا په ما باندی دمحکمې له لارې شپږ کاله قید خیجولی و او ته وې، چې زما ګاډی دې د قانون پواسطه سرکاری کړو او ته وې چې زما په زرونو روپی. دې خاورې کړې، دا سودا مې د هغو ښو په مقابل کې تاته راوړه، جمال صاحب هك پك پاتې شو، چې څه وایی؟ سل ځوابونه یې یو کړل او ورته یې وویل:

- ما خو تا سره ښه نه دی کړی، لرغونی اثار دی ضبط شول، موټر دې ضبط شو او شپږ کاله بدی شوی.

عبدالله همدا خبره ومنله او ویې ویل:

- جمال صاحب همدا خبره ده، زه سوداګر وم، خو قاچاقبر، ما خپله وظیفه اجراء کوله او تا خپله وظیفه اجراء کوله زه اوس پوه شوی یم ته یو ریښتینی خدمتګار وی او تا ځکه زما سره ښه کړی دی او هغه دادې چې زه دې په هغه شپه له بې عزتی څخه خلاص کړم، خو چې ژوندی وی او ژوندی وم زما او ستا وروری به وی، په هغې شپه چې تا کوم سړی له کلیو څخه راوستی و، هغه ملك و، خو زما تربور او دښمن و.

پای

دومین جشنواره 'سینمای ایران در تبعید'

دومین جشنواره سینمای ایران در تبعید (پاریس)، با نمایش بیست فلم و دو برنامه خاص و سخنرانی، به همت انجمن هنر در تبعید، برگزار شد.

از فلم های سینمایی، فلم خانه جهنمی ساخته سوسن تسلیمی بازیگر سرشناس ایرانی بود که چند سال پیش به کشور سویدن پناهنده شد.

این فلم که دو سه سال پیش ساخته شده است به زندگی آشفته یک مرد ایرانی می پردازد که با وجود اقامت طولانی در سویدن، هنوز خود را با فرهنگ جامعه میزبان تطبیق نداده است و زندگی را بر همسر سویدنی و بر دو دختر بزرگ و پسر نو جوانش جهنم کرده است.

"حسن بریجانی" در نقش مرد و "بی بی عزیزی" در نقش مادر او بازی های گیرایی دادند.

فلم سیاهی لشکرها که به صورت غیر مجاز توسط نصرالله شیبانی و مسلم منصوری در تهران تهیه شده است، در باره مردانی است که در فلم های قبل از انقلاب "بدل کار" و "سیاهی لشکر" بوده اند وحالا که دوران آن گونه فلم ها سر آمده است، روزها، با روحیه یی افسرده و بیمارگونه، در قهوه خانه یی که محل تجمع شان است جمع می شوند و به درد دل هم می رسند و منتظرند که شاید مسئول تهیه یک سریال تلویزیونی بیاید و برای یکی دو روز آنها را اجیر کند.

فلم مخملباف بدون حجاب فلمی است که شاپور دانشمند چند سال پیش در امریکا در باره محسن مخملباف تهیه کرده است و حالا با تاخیر بسیار در برنامه جشنواره است.

در این فلم پنجاه دقیقه یی. قطعاتی از تمام فلم های مخملباف تا فلم گبه که هنگام تهیه مخملباف بدون حجاب آخرین فلمی بود که ساخته بود، نشان داده می شود

فلمی که نمایش آن سر و صدا بر انگیخت و چند نفری هم سالون را ترک کردند، فلمی بود با عنوان "تروریست واقعی رژیم آخوندی است."

SUSAN TASLIMI

فلم که ساخته حسین پویا مقیم انگلستان است، فلمی است که به بهانه محکوم کردن جمهوری اسلامی ایران به دفاع از سازمان مجاهدین خلق می پردازد.

این فلم که ساختار ضعیفی هم دارد با اعتراض تنی چند از تماشاگران روبرو شد.

دو برنامه خاص هم یکی به یاد فریدون رهنما با نمایش دو فلم او "تخت جمشید" و پسر ایران از مادرش بی خبر است و یکی هم به یاد نصیب نصیبی با نمایش فلمی از او، چه هراسی دارد ظلمت روح که در سال ۱۳۵۲ ساخته بود بر گزار شد.

درگذشت لیلا صراحت شاعره افغان

لیلا صراحت روشنی، شاعر، نویسنده و روزنامه نگار سرشناس افغانستان روز چهارشنبه (۲۱ جولای) در شفاخانه یی در هالند در گذشت.

خانم صراحت روشني که از دو سال بدینسو از سرطان مغز رنج مي برد به هنگام مرگ ۴۶ سال داشت.

او در ۲۳ جوزای سال ۱۳۳۷ بدنیا آمد. پدرش زنده یاد سرشار شمالی، لیلا را با الفباي شعر و ادب آشنا کردو نخستین آموزگارش شد.

لیلا صراحت تحصیلات ثانوی اش را در لیسه عالی ملالی و تحصیلات عالی اش را در پوهنځی زبان و ادبیات پوهنتون کابل به اتمام رساند.

از همان زمان شعرهاي خانم صراحت روشني در روزنامه ها و مجلات کابل به چاپ می رسید.

بعد از ختم تحصیل در لیسه، خانم صراحت به عنوان معلم زبان و ادبیات فارسي- دری نخستین شغل رسمی اش را آغاز کرد.

او مدتی نیز معاون مجله زنان "میرمن" بود و چندی در انجمن نویسندگان افغانستان کار کرد.

علاوی: با آدم ربایان معامله نکنید

ایاد علاوی، نخست وزیر موقت عراق، مصرانه از مصر خواسته است تا در برابر تهدیدات کسانی که یک دیپلومات مصری را در عراق به گروگان گرفته اند، تسلیم نشود.

آقای علاوی گفت تنها راه مقابله با تروریستها بستن راه به روی آنها و اجرای عدالت است.

وی ابراز امیدواری کرد که مصر بر همین اساس عمل کند.

در همین حال، پس از آنکه ربایندگان یک نوار ویدیویی شامل تصاویر محمد ممدوح قطب، دیپلومات ربوده شده مصری در عراق را همراه با تهدید به قتل وی انتشار دادند، وزیر خارجه مصر گفت که این کشور در نظر ندارد نیروی نظامی به عراق اعزام کند.

ربایندگان، که خود را تیپ شیرهای خدا نامیده اند، گفته بودند که در واکنش به اظهارات احمد نظیف، نخست وزیر مصر، در مورد آمادگی آن کشور برای کمک به دولت موقت عراق برای تقویت سازمان های امنیتی خود این دیپلومات را به گروگان گرفته اند.

ربایندگان تهدید کرده بودند که دیپلومات مصری را به قتل خواهند رساند.

معمولاً از دیپلومات های خارجی در عراق به شدت محافظت می شود ولی از قول منابع مصری گزارش شده است که آقای قطب هنگام خروج از یک مسجد ربوده شد.

یک تبعه مصری دیگر به نام محمد علی، که به عنوان راننده لاری در عراق کار می کرده نیز توسط ربایندگان به گروگان گرفته شده است.

وی از جمله هفت راننده خارجی لاری در عراق است که گروهی موسوم به دارندگان پرچم سیاه آنان را ربوده اند.

ربوده شدگان عبارتند از سه تبعه هند، سه تبعه کنیا و یک تبعه مصر که ربایندگان تهدید کرده اند تمامی آنان را گردن خواهند زد.

گروگانگیرها از یک شرکت کویتی که این افراد را در استخدام خود دارد خواسته اند برای آزادی آنان به خانواده شبه نظامیانی که در جریان نبرد با نیروهای امریکایی در فلوجه به قتل رسیدند غرامت پرداخت کند.

آنان همچنین خواستار آزادی زندانیان عراقی از زندان های امریکاییان و زندان های کویت شدند.

قبلا این گروه از شرکت کویتی خواسته بود عراق را ترک کند و تهدید کرده بود که در غیر اینصورت، در فواصل هر ۷۲ ساعت یکبار، یکی از گروگان ها را خواهد کشت.

در همین حال، نتوار سینگ وزیر امور خارجه هند گفته است که به نظر می رسد ربایندگان رانندگان لاری انگیزه مالی داشته اند، نه سیاسی.

او گفت اطمینان دارد که گروگانها به زودی آزاد خواهند شد.

راغلی لیک

د ارادی ورځپانی درنی اداری ته!

موږ د ننګرهار د خوګیانو خلك د افغان بی سیم شرکت په هکله ستاسو د ورځپانی له لارې خپله ستونزې د افغان بی سیم شرکت د مسوولینو غوږ ته رسوو.

افغان بی سیم شرکت په هیواد کې لومړنی شرکت دی چې د هیوادوالو لپاره یې په تیلیفوني ارتباط کې ستونزې حل کړې دي او لاهم غواړي چې د هیواد په نورو ولایاتو کې ارتباطات د خپلو انتنونو پواسطه تینګ کړي موږ د خوګیانو خلك چې د افغان بی سیم له کارتونو څخه موتر لاسه کړي دي د هیواد په دننه او بهر کې یې راته زیاتی اسانتیاوی برابری کړي دي.

خو زموږ ستونزه داده چې د افغان بی سیم مبایل په خوګیانو کې د غونډیو له سر څخه چې لوړې دی خپل انتن ښکاره کوي او ارتباطات تینګوي خو چې یو څو قدمه له غونډیو څخه ځوك کښته شي نو بیا یې انتن کار نه ورکوي ددی علت دادی چې له جلال آباد څخه یې واټن زیات دی که چیرې یو ځوك وغواړي چې چیرې تیلیفون وکړي مجبور دی چې یو څه مزل وکړي د غونډۍ سرته وخیژي او ارتباط قایم کړي او دا کار د شپې ډیری ستونزی لري او هغه ځوك چې له بل ځای څخه خوګیانو ته د یو چاسره تیلیفوني ارتباطات نیسي ارتباط نیولی نشي.

موږ د افغان بی سیم له شرکت څخه غواړو چې د خوګیانو په مرکز د کړۍ په ولسوالۍ کې یا د مملی په باغ کې او یا خو د ماما خیلو په ولسوالۍ انتن ولګوي چې زموږ ستونزی حل شي او که په نوموړي دری واړو ځایو کې چې له یو بل څخه زیاته فاصله لري انتنونه ولګول شي نو لا ډیره ښه ده ځکه چې پدی پورتنیو دریو واړو ځایو کې دولتي کسان شته امن او امنیت یې په ضمانت سره ساتل کیدای شي که چیرې نوموړي شرکت زموږ د ستونزو د حل په برخه کې اقدام وکړي موږ به خوشحاله شو او ارتباطي ستونزی به حل شي او نورې ارتباطي او لګښتي ستونزی به هم کیدای شي د مسوولینو په زړه سوی سره حل شي.

په درنښت غلام دستګیر د خوګیانو د کړۍ د اوسیدونکي لیکنه د نورو خلکو په استازیتوب

د اداری یادونه!

ګرانه ورورہ موږ ستاسو لیك په امانت داری سره خپور کړ کیدای شي چې د افغان بی سیم مسوولین پدی هکله لازمه اقدام وکړي.

اعتراض تندروهای فلسطینی علیه عرفات

گروه های تندرو فلسطینی به تظاهرات اعتراضی خود علیه یاسر عرفات، رهبر فلسطینیان، ادامه می دهند و به چندین ساختمان متعلق به تشکیلات خودگردان حمله کرده اند.

در این تظاهرات، یک پوسته پولیس در نزدیکی شهر غزه به آتش کشیده شد و مردان نقابدار مسلح برای مدتی دفتر قوماندان امنیه شهر خان یونس را به اشغال در آوردند.

آنان از آقای عرفات می خواستند موسی عرفات را، که به سمت سرپرست واحدهای امنیتی در غزه منصوب شده است برکنار کند.

تظاهرات علیه آقای عرفات هفته گذشته و با درخواست از وی برای انجام اصلاحات در ساختار امنیتی تشکیلات خودگردان آغاز شد.

این تظاهرات باعث شد تا رهبر فلسطینیان تصمیم اولیه خود در انتصاب موسی عرفات به سمت سرپرستی کل سازمان های امنیتی فلسطینیان را تغییر دهد اما وی را به سرپرستی تشکیلات امنیتی در غزه منصوب کرد.

تظاهرات کنونی از سوی تیپ شهدای الاقصی از سازمان های تندرو وابسته به جنبش فتح وفادار به یاسر عرفات برگزار شده است.

این گروه آقای عرفات را به تلاش برای ایجاد خویشاوند سالاری و ناکامی در ریشه کن ساختن فساد در نهادهای امنیتی متهم کرده است.

براساس گزارش های رسیده از غزه، پس از آنکه به تظاهر کنندگان اطمینان داده شد که برخی از ماموران امنیتی که توسط موسی عرفات اخراج شده بودند مجددا به کار خود باز می گردند آنان دفتر قوماندان امنیه خان یونس را ترک گفتند.

به گفته خبرنگار بی بی سی در بیت المقدس، نا آرامی های اخیر در غزه به عنوان نشانه یی از مبارزه قدرت بین گروه های مختلف فلسطینی در این منطقه تلقی شده است.

دولت اسرائیل تصمیم دارد با برچیدن شهرک های یهودی نشین در باریکه غزه نیروهای خود را از این منطقه خارج کند و به نظر می رسد گروه های مختلف فلسطینی در صدد برآمده اند تا به منظور تسلط بر اوضاع بعد از خروج اسرائیل مواضع خود را تقویت کنند.

در همانحال، نظامیان اسرائیلی همچنان به عملیات خود در غزه ادامه می دهند و منابع اردوی اسرائیل گفته اند چند ساختمان متروکه را در اردوگاه رفح منهدم کرده اند.

اسرائیل گفته است که تندروهای فلسطینی این ساختمان ها را به منظور عملیات علیه اسرائیل مورد استفاده قرار می داده اند.

KHAN YOUNIS GOV

مشکل کمبود آب ...

تاکنون در روستا های ولایات سمنگان، بلخ وجوزجان در شمال افغانستان این برنامه آغاز شده است. به گفته یکی از مسوولان وزارت انکشاف دهات مردم با مشکلات مشابه درین روستا ها مواجه بودند. باشنده گان یکصدو هشتادو یک روستای شمال افغانستان به کمبود آب آشامیدنی مواجه شده اند. که تحت این برنامه به تهیه آب آشامیدنی در مناطق شان پرداخته اند.

ساختن مکاتب، ترمیم وبازسازی جاده های که روستاهای را به ولسوالی های ولایات وصل می کنند نیزدر برنامه همسبتگی ملی شامل شده است.

در افغانستان افراد...

اما وی گفت این بازداشت ها، از جمله بازداشت جاناتان ایدما - از نظامیان سابق امریکا - دو تبعه دیگر امریکایی و چند افغان، آگاهی ها در مورد این مفصله را افزایش داده و هشداری بوده است برای دیگر افراد خودسر که با انگیزه های مشابه در افغانستان بسر می برند.

گزارشگران می گویند افراد خودسر و جایزه بگیرها احتمالاً به این دلیل به افغانستان سرازیر شده اند که امریکا برای دستگیری هر مظنون طالبان و القاعده جایزه های بزرگی را پیشنهاد داده است.

امریکا برای دستگیری یا کشتن اسامه بن لادن، رهبر شبکه القاعده، یک جایزه پنجاه میلیون دالری تعیین کرده است.

توزیع تصدیق...

و ابراز امیدواری نموده که تجارب بدست آمده از آن در عملی ساختن امور انتخابات مفید تمام شود.

خبرنگار مامی افزاید: طی این ورکشاپ ۱۵ روزه که تحت عنوان اساسات و اصول اداره انتخابات دایر گردیده، ۳۵ تن از کارمندان دارالانشاء دفتر مشترک تنظیم انتخابات سهم گرفته بود. در پایان مراسم توزیع تصدیقنامه ها تحفه افغانی که توسط شاملان ورکشاپ تهیه شده بود توسط داکتر فاروق وردک به پروفیسور دون کمیبل داده شد.

اعلام آمادگی اردوی...

لوی درستیز اردوی ملی گفت که درین راستا افراد اردوی ملی در هفت منطقه تقسیم میشوند.

جنرال بسم الله خان گفت که تعیینات جدید که در سطح فرماندهی چند قول اردو از جمله قول اردوی شماره هفت در مزار شریف به فرمان آقای کرزی انجام شد در پیشبرد روند جمع آوری سلاح وبهتر شدن وضعیت امنیتی انتخابات موثر خواهد بود. اوگفت که جنرال عطا محمد قوماندان قول اردو شماره هفت به پاس خدماتش به دولت به سمت والی بلخ توظیف گردیده وهمیشه با برنامه جمع آوری سلاح همکاری کرده است.

همایش مهاجرین افغان...

مهاجرین افغان مقیم ایران طی یک همایش از جامعه جهانی خواسته است تا در ۳ بهتر برگزار کردن انتخابات ماه میزان سال جاری در افغانستان همکاری کنند.

اشتراک کننده گان این همایش از کشور های همسایه خواستار زمینه سازی هر چی بهتر شدند که هر کس بدون، ترس، تبعیض وفشار بتواند از حق ورأی خود بطور مناسب و به نفع کشور خود استفاده بکند.

در حالیکه افغانستان به سوی انتخابات پیش می رود نگرانی محصلان افغان مقیم ایران از چالش های پیش روی انتخابات چنین مطرح شد که جنگسالاران در گوشه و کنار کشور حاکمیت دارند. بی سوادی روی پیشرفت را گرفته وتفرقه های قومی نیز به نام ها وعنوان های گوناگون از طرف اشخاص خود غرض هم به شدت در حال مطرح شدن است.

از دیگر چالش ها که اشتراک کننده گان بر می شمردند، عدم آگاهی مردم افغانستان از اصول دموکراسی در کشور است.

اعلان مفقودی



محمدعوض فرزند سیداجان سن ۱۱ ساله متعلم صنف سوم لیسه ملالی، که پیراهن سرخ ، پطلون کریمی به تن و چپلی چرمی سیاه به پا دارد پسر خوش برخورد وچشمان آن سبز میباشد. همراه با یک بکس دستی سرخ از ساعت ۱۱ قبل از ظهر ۳۰ سرطان مفقود گردیده است.اشخاصی که درمورد موصوف معلومات داشته باشند به تیلفون های موبایل ۰۷۹۵۶۸۳۵۳ و ۰۷۹۳۳۰۹۸۹ درتماس شده شیرینی اخذ نمایند.

په ارزګان کې...

کله چې ائتلافي ځواکونو د طالبانو پر ضد عملیات کول ددفاع وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي دي: له نیي شوو سرتیرو څخه ځلورتنه یې بیرته خپلو دندو ته ستانه شوي او نور یې په روغتون کې بستری دي. امریکایي ځواکونو تر دې مهاله پدغه پیښه تبصره نده کړې.

د ۲۰۰۱ کال څخه راپیدخوا له امریکایي ځواکونو څخه دغه ډول تیروتنې شوي دي چې په نتیجه کې د طالبانو او القاعده په ځای نور سیمه ییز ملکي وګړي وژل شوي او ټپیان شوي دي.

ERADA
Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد)خانه نمبر ۹۵
تیلفون مبایل مدیر مسوول : ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
موبائیل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

اراده
زیر نظر هیات تحریر انتشار میابد
مؤسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : ظهور افغان
معاون: سهراب "دیدار"
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشرات افغان
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوزودیزاین : صدیق الله "صادق" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان قیمت یک شماره ۳ افغانی

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
eradadaily@hotmail.com
Deputy: Suhrab Didar